Preview (1 / 10) - ketabton.com

همکار مسلکي اکاډمي
HAMKAR PROFESSIONAL ACADEMY
HPA
2024 1403



۳ ټوک

# لیک او لوست زده کړه

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# همکار مسلکي اکاډمي



















# لیکوالان



برکت الله همکار
د همکار مسلکي اکاډمۍ بنسټګر



ثناء الحق غورځنګ
د همکار مسلکي اکاډمۍ مدیر

Preview (3 / 10) - ketabton.com

# لیک او لوست

# زده کړه

## دریم ټوک

## لیکوالان

برکت الله همکار او ثناء الحق غورځنګ

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# سریزه

**د قلم او پوهې خدای تعالی په سپېڅلي نامه**

**الحمدلله ثم الحمدلله همکار مسلکي اکاډمي د ننگرهار ولایت په اوومه ناحیه کې له څو کلونو راهیسې د انگلیسي ژبې، کمپیوټر، وېناوالۍ ترڅنگ د لیک او لوست د زده‌کړې په برخه کې خپلو هېوادوالو ته صادقانه خدمت کوي. د الله تعالی په فضل او د ژمنو ښوونکو په هڅو سره، تر اوسه سلگونه او زرگونه د هېواد بچیانو ته د پښتو لیک او لوست د زده‌کړې زمینه برابره شوې ده.**

**د همدې موخې د لا پیاوړتیا لپاره دا د لیک او لوست نصاب ترتیب شوی، تر څو هغه هېوادوال چې د سواد له نعمت څخه بې‌برخې پاتې شوي، وکولای شي په اسانه، تدریجي او اغېزمن ډول د پښتو ژبې لوستل او لیکل زده کړي. په دې نصاب کې د زده‌کوونکو د عمر، ذهني کچې او ورځنیو اړتیاوو ته ځانگړې پاملرنه شوې او درسونه له اسانه څخه ستونزمن ته په منظم ترتیب برابر شوي دي.**

**په دې تعلیمي نصاب کې یوازې د تورو پېژندنه نه، بلکې د سم لوست، ښکلي لیک، املا، ساده گرامري اصولو او د ورځني ژوند له اړتیاوو سره سم د جملو پر زده‌کړه تمرکز شوی دی، څو زده‌کوونکي وکولای شي په عملي ډول له خپل سواد څخه گټه واخلي. همدارنگه، ټول مثالونه، تمرینونه او متنونه د افغاني ټولنې له کلتور، ارزښتونو او چاپېریال سره سم انتخاب شوي دي.**

**همکار مسلکي اکاډمي په دې باور ده چې لیک او لوست د فردي او ټولنیز پرمختگ بنسټ دی، او بې‌سوادي د فقر، ناپوهۍ او شاته پاتې کېدو له سترو لاملونو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله، دا نصاب د تجربې، اخلاص او مسلکي معیارونو پر بنسټ چمتو شوی، څو د هېواد د سواد لوړولو په لاره کې یو گټور او دوامدار گام واوسي.**

**په پای کې له ټولو ښوونکو، روزونکو او زده‌کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې نصاب له محتوا څخه په سمه توگه استفاده وکړي، تمرینونو ته جدي پاملرنه وکړي او د زده‌کړې دا سپېڅلې لاره په مینه، حوصله او دوام تعقیب کړي. الله تعالی دې وکړي چې دا هڅه د علم د خپرېدو، د ټولنې د روښانتیا او د هېواد د ابادۍ سبب وگرځي.**

**په درنښت**

**برکت الله همکار**

Preview (5 / 10) - ketabton.com




# ۱

# افغانستان

زموږ ګران هیواد افغانستان لرغونی تاریخ او نومیالي شخصیتونه لري. افغانستان ټول ۳۴ ولایتونه لري او مرکز یې د کابل ولایت دی. د افغانستان مشهور صادرات وچه میوه او غالۍ دي. افغانستان لوړ لوړ غرونه او لوی لوی سیندونه لري، ښکلی او معتدله هوا لري. د افغانستان ټول اوسیدونکي د خپلوالۍ او یووالي سره مینه لري. موږ باید خپل هیواد د علم او پوهې په برکت د نړۍ سره سیال کړو.

| لغات | معنا |
|---|---|
| لرغونی | پخوانی |
| معتدل | منځنی |
| سیال | برابر، یو شان |
| نړۍ | دنیا |
| نومیالي | مشهور |

Preview (6 / 10) - ketabton.com

## صنفي فعالیت

زده کوونکي دې په لاندې جدول کې د تورو څخه کلیمې جوړې او په خالي ځایونو کې دې ولیکي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ه | ي | و | ا | د |
| ي | ا | س | ی | ن |
| ل | چ | ل | م | ر |
| ن | ړ | ئ | ا | ډ |
| ی | ک | ا | ب | ل |

| هیواد |
|---|
| |
| |
| |
| |

زده کوونکي دي لاندي جملو خالي ځایونو په کلمو سره ډک کړي.

۱. زموږ د ګران ـــــــــــ نوم افغانستان دی.

ولایت کلی هېواد ښار

۲. د افغانستان مشهور ـــــــــــ وچه مېوه او غالۍ دي.

واردات معتدل غالۍ صادرات

۳. د افغانستان مرکز ـــــــــــ ولایت دی.

کابل هرات ننګرهار لغمان

؟ کورنۍ دنده : زده کوونکي دې خپلو کتابچو کې ۱۰ داسې کلمې ولیکي او په جملو کې دي استعمال کړي چي (ا) توری پکی استعمال شوی وي.

Preview (7 / 10) - ketabton.com




# ب

## بابا

بهادر د بلال بابا دی.

زه د خپل بابا درناوی کوم.

بهادر بابا په باغ کې بوټي کښینوي

د بهادر بابا په باغ کې هر ډول بوټي شتون لري.

| معنا | لغات |
|---|---|
| قدر ، عزت | درناوی |
| مهارت او پوهه | تجربه |

Preview (8 / 10) - ketabton.com

## صنفي فعالیت

زده کوونکي دې په لاندې جدول کې د تورو څخه کلیمې جوړې او په خالي ځایونو کې دې ولیکي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ب | ه | ا | د | ر |
| ب | ا | غ | | |
| ب | ا | ب | ا | |
| ب | ل | ا | ل | |
| ت | ج | ر | ب | ه |

| |
|---|
| بهادر |
| |
| |
| |
| |

زده کوونکي دي لاندي جملو خالي ځایونو په کلمو سره ډک کړي.

۱. بهادر د بلال ________ دی.

پلار کاکا بابا ماما

کورنۍ دنده : زده کوونکي دې خپلو کتابچو کې ۱۰ داسې کلمې ولیکي او په جملو کي دي استعمال کړي چي (ب) توری پکی استعمال شوی وي.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



# پ

# پسرلی

یو کال څلور فصلونه لري. پسرلی د کال لومړی فصل دی. په پسرلي کې ونې خپلې پاڼې او ګلان غوټۍ غوړوي. پسرلی د ژمي پای او د اوړی تر منځ موسم دی. د پسرلي په موسم کې ټول کښتونه شنه او تاره وي.

| لغات | معنا |
|---|---|
| کښتونه | فصلونه |
| اوړی | د ګرمۍ موسم |
| پیل | شروع |
| پیلیدونکی | شروع کیدونکی |

Preview (10 / 10) - ketabton.com

## صنفي فعالیت

زده کوونکي دې په لاندې جدول کې د تورو څخه کلیمې جوړې او په خالي ځایونو کې دې ولیکي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| غ | م | و | س | م |
| ق | ل | م | ق | ج |
| ه | ت | ا | ز | ه |
| و | ظ | و | ن | ي |
| ا | ش | ن | ه | ق |

| موسم |
|---|
| |
| |
| |
| |

زده کوونکي دي لاندي جملو خالي ځایونو په کلمو سره ډک کړي.

۱. یو کال ______ فصلونه لري.

۲. د پسرلي په موسم کې هوا ______ وي.

۳. افغانستان ______ او نومیالي شخصیتونه لري.

۴. هر هیواد خپل ځانګړی ______ لري.

۵. ملی بیرغ د یو هیواد د خپلواکۍ ______ ده.

؟

کورنۍ دنده : زده کوونکي دې خپلو کتابچو کې ۱۰ داسې کلمې ولیکي او په جملو کي دي استعمال کړي چي (پ) توری پکی استعمال شوی وي.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/dmW5yHNpXRR

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.